AELSO

د افغانستان د اقتصادي او حقوقي مطالعاتو موسسه
موسسه مطالعات اقتصادي و حقوقی افغانستان
Afghanistan Economic & Legal Studies Organization

# JUMP - JOINING UP TO MINIMIZE POVERTY

گامهـــای مشتـــرک بـــرای مبـــارزه بـا فقر

له غـربت سره د مبـــارزې لپاره ګډ ګامـــونه



## خلیل‌الله همدرد

د افغانستان هویت او ګلتور

# ENTREPRENEURS FOR PROSPERITY IN AFGHANISTAN

کارآفرینان برای رفاه در افغانستان | په افغانستان کې د هوساینې لپاره متشبثين

/AELSO1 /AELSO2 aelso_afghanistan www.AELSO.org

خلیل‌الله همدرد

# د افغانستان هویت او کلتور



کابل، افغانستان

افغانستان هغه هېواد دی، چې له څوارلس کلنې جګړې، بدمرغۍ، بې وزلۍ او سیاسي او ټولنیزو تغیراتو د فکرونو د تېښتې تجربه لري، خو د خپل مخ پر وړاندې تګ څخه پاتې شوی او د دې ټولو ناخوالو تر شا شخصیتونه او ځوانانو ژوند کړی، تر څو سبا ورځ د خپل هېواد او ټولنې لپاره روښانه سبا وي، دوی د ستونزو او بې وزلۍ سره مبارزه کړې او د ټولنې او هېواد په وړاندې یې خپل انفرادي مسؤلیت ادا کړی دی، دوی د دې پولې بدلونکي په توګه پېژندل شوي.




د واخجیر د لاسي صنایعو د محصولاتو د نندارتون په حال کې

یو له دغو ځوانانو او شخصیتونو څخه ۲۲ کلن افغان خلیل الله همدرد دی چې د ژوند له سختو ستونزو سره لاس او ګرېوان وه، خو په دې توانیدلی چې د لاسي صنایعو په برخه کې خپل کاروبار پیل کړي او نن ورځ یې کاروبار په ملي او نړیواله کچه یو ځانګړی ځای لري

خلیل الله همدرد د خپلې بریا لامل د خپلې مور هڅونه بولي، چې تل یې د مختلیفو کارونو د ترسره کولو په پار هڅولی، د همدرد د کورنۍ غړو ډیر په تعلیمي او ټولنیزو برخو کې له حکومت سره دنده ترسره کړې ولې همدرد بې متفاوت کار سره سوداګرۍ ته داخل شو، " تل مې هیله درلوده چې یوه ورځ وکولای شم خپل کاروبار ولرم او خپله د کاروبار سمبالونکی شم، تر څو وکولی شم له همدې لارې خپلې ټولنې ته د خدمت جوګه شم .

نن ورځ د واخجیر لاسي صنایعو شرکت نه یوازې د همدرد لپاره د سوداګرۍ او عاید سرچینه ګرځیدلې، بلکې درې سوه کسان یې د کارکوونکو په توګه پیسې ګټي او د افغانستان کلتوري هویت یې د هېواد، سیمې او نړۍ ټولو برخو ته ښودلی دی.




واخجیر د لاسي صنایعو محصولات

## خلیل‌الله همدرد

### د افغانستان هویت او ګلتور



„واخجیر د لاسي صنایعو محصولات“

همدرد یو مبارز او نوښتګر شخصیت دی، همدرد د واخجیر لاسي صنایعو د شرکت د بنسټ ایښودونکي او اجرایوي رئیس په توګه خپله دنده له یوې کوچنی تولیدي فابریکې سره پیل کړه، خو د لوړو اهدافو په درلودلو سره یې په ملي او نړیواله کچه د صادراتو په برخه کې ځانګړی مقام درلود، هغه نه تنها خپلې شخصي هیلې او هدفونه تعقیب کړلي بلکې د هغه فکر د بې وزلی له منځه وړلو په برخه کې یې خپل مسوولیت ادا کړی او نورو ته یې د کار زمینه برابره کړې، هغه دې داسې فکر په لرلو خوښ دی "دا هغه څه دي چې زه ډېری وخت هڅولی یم چې د خلکو د خدمت لپاره سخت کار وکړم تر څو د خلکو لپاره د خدمت جوګه شم



„واخجیر د لاسي صنایعو محصولات“

هغه د خپل ماشومتوب او د افغانستان د ترلې ټولنې څخه روایت کوي، زه د افغانستان په یو ولایت کې زیږېدلی یم چې رواجونه او دودونه یې د لوی بدلون او نوښت په وړاندي یو پیاوړی خنډ دی او حتی په دې اړه خبرې کوي چې "په ټولنه کې داخلي بدلون دومره نه سترې کیدونکې هڅې ته اړتیا لري. هغه د واخجیر د لاسي صنایعو په اړه خبرې او روایت کوي. "واخجیر د افغانستان د یو ولایت؛ د کوټک واخان د تر ټولو لوړې کلا څخه اخیستل شوی دی. د دې نوم د غوره کولو موخه د افغانستان د مختلفو قومونو او ملیتونو ترمنځ د همپالنې او هماهنګۍ کلتور ته وده ورکول دي.



„واخجیر د لاسي صنایعو محصولات“

په ژوند کې انسان کله نا کله له نا امیدۍ سره مخ کیږي، خو همدا عزم او استقامت دی چې زه یې بیا پیل کوم او په کلک هوډ او ارادې سره د پخوا په پرتله ډیر قوي او انعطاف منونکی یم، چې زیاتره وخت دا عزم او اراده د همکارانو په لیدو سره په ما کې را ژوندۍ شوې، " اصلآ مو‌ږ تمه نه درلوده چې د واخجیر صنعتي شرکت ژر تر ژره عام شي او هرڅوک به د هغې په اړه ټول معلومات ولري، کوم چې زما ښه یاد دی کله به چې کډوونوالو څخه بازار موندنې په پار مرکه کیده زیاترو به یې د واخجیر له لاسي صنایعو سره اشنایي درلوده "او دا زموږ لپاره د ښه سبا لپاره د خوښۍ او امید سرچینه وه".

په عین حال کې ژوند هر انسان ته په یو ډول نه یو ډول سختۍ ورکوي، ډیری خلکو په دې سختیو او ازمایښتونو کې هڅه نه ده کړې، خو له نیکه مرغه زموږ په شاوخوا کې هغه کسان لوی رول لري چې د بریا او خوښۍ کلیدي رول ولري. "زما لپاره زما ملګرې غوره ملاتړې دي چې تل یې په ټولو برخو کې زما ملاتړ کړی، او دا زما په ژوند کې د خوښۍ سرچینه او د یوې ښې راتلونکې لپاره د مثبتې انرژۍ سره یو اغیزمن امید دی.



خلیل الله همدرد، د واخجیر لاسي محصولاتو د تړون لیکونو د لاسلیک په حال کې

نن ورځ ډیری ځوانان چې غواړي خپل کار او کاروبار پیل کړي له ډیرو ننګونو سره مخ دي، چې خلیل الله همدرد په دې اړه وایي: هغه ځوانانو ته چې غواړي خپل کار او کاروبار پیل کړي زما مشوره ورته دا ده چې په لومړي سر کې د خپلې سوداګرۍ پلان جوړ کړي، داخلي او بهرنۍ چاپیریال تحلیل کړئ. په دویم ګام کې د خپلو سرچینو له تحلیل او تجزیې څخه ترلاسه شوو باندې تکیه وکړئ ".

هغه همدارنګه د ځوانانو لپاره د سوداګرۍ پیشنهاد ته په اشارې وویل: "له نېکه مرغه زموږ په هېواد کې دوه ډوله سوداګري شته، چې یو یې د قیمتي ډبرو او طبیعي زېرمو په برخه کې او بل یې په صنعتي برخه کې ده. زما وړاندیز هغو کسانو ته کوم چې غواړي نوې سوداګري پیل کړي او یا یې لري، د سوداګرۍ پیل کولو پلان دا دی چې په دې دوه سکتورونو کې پانګونه وکړئ او د سوداګرۍ او د هیواد د اقتصاد د ودې لامل شئ.




خلیل الله همدرد، له داخلي رسنیو سره د خپل شرکت د فعالیتونو په اړه د مرکې په حال کې














” د واخجير د لاسي صنايعو د محصولاتو  او د ننداړتون په حال کې “

ما له دې زړه راښکونکي سفر څخه ډېر درسونه زده کړل او خوښ یم چې هغه کار او سوداګرۍ چې ما پیل کړې  هغه د فقر په له منځه وړلو، پانګونې او د کار پیدا کولو مرسته وکړي او هره ورځ د هغوی د پرمختګ شاهد واوسم، مګر دا د مسلې پای نه دی، دا د نه منلو وړ پیل دی. "ولې دلته د کار ختم نه ده بلګې د ډولو نا ممکنو پیل ده، هیله لرم چې یوه ورځ د افغانستان هویت او کلتور د واخجیر صنایعو د تولیداتو په نړیوالو بازارونو کې څرګند شي او خپل بازار او مارکیټ ولري".